بسم الله الرحمن الرحيم

## د گمرکي حکميت مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

مبني

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د گمرکونو د قانون د نولسمې او دوه ويشتمې مادې د حکمونو په رڼا کې، د گمرکي حکميت په واسطه د واردو شوو اعتراضونو د څېړنې (رسيدگی) د دول او د هغهٔ د تشکيل، دندو او واکونو د تنظيم په منظور وضع شوې ده.

خپلواکتوب

**دوه يمه ماده:**

د گمرکي حکميت اداره په خپلو اجراآتو کې خپلواکه ده، خپلې دندې په بشپړه ناپلوۍ او د گمرکونو د قانون، دغې مقررې او نورو تقنيني سندونو د حکمونو له

## مقررهٔ حکميت گمرکی

## فصل اول

## احکام عمومی

مبنی

**مادهٔ اول:**

اين مقرره در روشنی احکام مواد نزدهم و بيست و دوم قانون گمرکات، بمنظور تنظيم طرز رسيدگی بر اعتراضات وارده توسط حکميت گمرکی و تشکيل، وظايف وصلاحيت های آن، وضع گرديده است.

استقلاليت

**مادهٔ دوم:**

ادارهٔ حکميت گمرکی در اجراآت خود مستقل بوده، وظايف خويش را با بی طرفی کامل و رعايت احکام قانون گمرکات، اين مقرره و ساير

په پام کې نيولو سره سرته رسوي.

## د نوې کتنې غوښتنليک

درېيمه ماده:

د ګمرکي حکميت اداره، اعتراض په هغه صورت کې څېړي چې غوښتنليک ورکوونکی د ګمرکونو د لوی رياست پر تصميم قناعت ونکړي يا د نوې کتنې غوښتنليک د ګمرکونو د لوی رياست لخوا رد شي، پدې صورت کې غوښتنليک ورکوونکی کولای شي خپل اعتراض شخصاً يا د خپل واکمن استازي په واسطه، د ګمرکي حکميت ادارې ته وړاندې کړي.

## دوهم فصل

## تشکيل

## د ګمرکي حکميت اداره

څلورمه ماده:

(۱) د ګمرکي حکميت اداره د ماليې وزارت په چوکاټ کې جوړېږي.

اسناد تقنيني انجام ميدهد.

## درخواست تجديد نظر

مادهٔ سوم:

ادارهٔ حکميت گمرکی اعتراض را در صورتی رسيدگی مينمايد که درخواست دهنده به تصميم رياست عمومی گمرکات قناعت ننمايد و يا درخواست تجديد نظر از طرف رياست عمومی گمرکات رد گردد، در اينصورت درخواست دهنده ميتواند اعتراض خود را شخصاً يا توسط نمايندهٔ با صلاحيت خويش به ادارهٔ حکميت گمرکی ارائه نمايد.

## فصل دوم

## تشکيل

## ادارهٔ حکميت گمرکی

مادهٔ چهارم:

(۱) ادارهٔ حکميت گمرکی در چوکات وزارت ماليه ايجاد ميگردد.

(۲) د گمرکي حکمیت اداره له دریو غړو څخه جوړه ده چې د مالیې د وزیر په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ د دریو کلونو موده لپاره ټاکل کېږي:

۱- یو تن حقوق پوه.

۲- یو تن اقتصاد پوه.

۳- په سوداګریزو او گمرکي چارو کې یو تن کارپوه.

(۳) د گمرکي حکمیت د ادارې په سر کې حقوق پوه غړی قرار لري.

(۴) د گمرکي حکمیت د ادارې د رئیس او غړو د خدمت موده، د مالیې وزیر د تصمیم له مخې د یوې درې کلنې دورې لپاره تمدید کېدی شي.

## د غړیتوب شرطونه

پنځمه ماده:

هغه شخص د گمرکي حکمیت د ادارې د غړي په توګه ټاکل کېدی شي چې د لاندې اوصافو

(۲) ادارهٔ حکمیت گمرکی متشکل از سه عضو بوده که به پیشنهاد وزیر مالیه و منظوری رئیس جمهور برای مدت سه سال به ترکیب ذیل تعیین میگردند:

۱- یک تن حقوقدان.

۲- یک تن اقتصاد دان.

۳- یک تن کارشناس در امور تجارتی و گمرکی.

(۳) در رأس ادارهٔ حکمیت گمرکی عضو حقوقدان قرار دارد.

(۴) میعاد خدمت رئیس و اعضای ادارهٔ حکمیت گمرکی حسب تصمیم وزیرمالیه برای یک دورهٔ سه ساله تمدید شده میتواند.

## شرایط عضویت

مادهٔ پنجم:

شخصی بحیث عضو ادارهٔ حکمیت گمرکی تعیین شده میتواند که واجد اوصاف

لرونکي وي:

۱- د افغانستان د تابعیت لرل.

۲- د حقوقو، اقتصاد یا سوداګرۍ په مسلک کې لږ تر لږه د لیسانس د سند لرل.

۳- په اړونده رشته کې لږ تر لږه د لسو کلونو کاري تجربې لرل.

۴- د محکمې په حکم، د عمدي جنایت یا جنحې په مجازاتو نه محکومیت.

## په نورو دندو نه بوختېدل

شپږمه ماده:

د ګمرکي حکمیت د ادارې غړي نشي کولای په یوه وخت په نورو ادارو کې دنده سرته ورسوي یا مستقیماً د سوداګرۍ یا ددفاع د وکالت په شغل لاس پورې کړي. په علمي او تدریسي کارونو بوختېدل لدې حکم څخه مستثنیٰ دي.

## ګوښه کېدل

اوومه ماده:

د ګمرکي حکمیت د ادارې غړی د

ذیل باشد:

۱- داشتن تابعیت افغانستان.

۲- داشتن حد اقل سند لیسانس در مسلک حقوق، اقتصاد و یا تجارت .

۳- داشتن تجربهٔ کاری حد اقل (۱۰) سال دررشتهٔ مربوط.

۴- عدم محکومیت به مجازات جنایت یا جنحهٔ عمدی، به حکم محکمه.

## عدم اشتغال به وظایف دیگر

مادهٔ ششم:

اعضای ادارهٔ حکمیت گمرکی نمی توانند همزمان در سایر ادارات ایفای وظیفه نموده یا مستقیماً به شغل تجارت یا وکالت دفاع مبادرتورزند. اشتغال بکارهای علمی و تدریسی از این حکم مستثنی است.

## سبکدوشی

مادهٔ هفتم:

عضو ادارهٔ حکمیت گمرکی

سپارل شوو چارو په اجراء کې د نه کفایت یا د حکمیت د ادارې د اسرارو د افشاء کولو له امله، د مالیې وزیر په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظوری، گوښه کېږي.

سکرتریت

اتمه ماده:

د گمرکي حکمیت اداره د سپارل شوو چارو د پر مخبیولو په منظور د سکرتریت لرونکې ده چې کارکوونکي یې د قانون د حکمونو مطابق مقرربږي.

## دریم فصل

## د گمرکي حکمیت د ادارې دندې او واکونه

دندې او واکونه

نهمه ماده:

(۱) د گمرکي حکمیت اداره وارد شوی اعتراض، د گمرکونو د قانون، دغې مقررې او نورو تقنیني سندونو د حکمونو په

بنابرعدم کفایت دراجرای امورمحوله یا افشای اسراراداره حکمیت گمرکی،به پیشنهاد وزیر مالیه و منظوری رئیس جمهور، سبکدوش میگردد.

سکرتریت

مادهٔ هشتم:

ادارهٔ حکمیت گمرکی بمنظور پیشبرد امور محوله دارای سکرتریت میباشد که کارکنان آن طبق احکام قانون مقرر میگردند.

## فصل سوم

## وظایف و صلاحیت ها ی ادارهٔ حکمیت گمرکی

وظایف و صلاحیت ها

مادهٔ نهم:

(۱) ادارهٔ حکمیت گمرکی اعتراض وارده را در روشنی احکام قانون گمرکات، این مقرره و سایر اسناد تقنینی

رڼا کې تر څېړنې لاندې نيسي.

(۲) د گمرکي حکميت اداره د گمرکونو د لوی رياست پر تصميمونو باندې ولړد شوی اعتراض تر څېړنې لاندې نيسي او په متنازع فيها قضيې پورې اړوندو مدرکونو او سندونو په هکله کې د گمرکونو له لوی رياست څخه لازمې څرگندونې غواړي.

(۳۰) د گمرکونو لوی رياست مکلف دی، ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي سندونه او مدرکونه د حکميت د ادارې د غوښتنې په وخت،د هغې په واک کې ورکړي.

(۴) د گمرکي حکميت اداره مکلفه ده، د خپلو اجراآتو رپوټ، د ماليې وزارت مقام ته ...اندې کړي.

## د سکرتريت ...ې

**لسمه ماده:**

(۱) د گمرکي حکميت، د ادارې سکرتريت د متنازع فيها قضيې

مورد رسيدگی قرار ميدهد.

(۲) ادارهٔ حکميت گمرکی اعتراض وارده بر تصاميم رياست عمومی گمرگات را مورد بررسی قرارداده و در مورد اسناد و مدارک مربوط به قضيهٔ متنازع فيها، توضيحات لازم را از رياست عمومی گمرکات مطالبه می نمايد.

(۳) رياست عمومی گمرکات مکلف است، اسناد و مدارک مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده راعندالمطالبهٔ ادارهٔ حکميت گمرکی به دسترس آن قراردهد.

(۴) ادارهٔ حکميت گمرکی مکلف است گزارش اجراآت خويش را به مقام وزارت ماليه ارائه نمايد.

## وظايف سکرتريت

**مادهٔ دهم:**

(۱) سکرتريت ادارهٔ حکميت گمر... ...خواست مبنی بر

څېړنې په اړه غوښتنليک ثبتوي او د غونډې وخت او ځای د هغې له جوړېدو څخه لږ تر لږه يوه اوونۍ دمخه اړخونو ته ابلاغوي.

(۲) غوښتنليک ورکوونکی شخصاً يا يې واکمن استازی د ګمرکي حکميت په غونډه کې ګډون کولای شي.

(۳) که چېرې د قضيې اړخونه په ټاکلي وخت حاضر نشي، د هغوی نه حضور د قضيې د څېړنې خنډ نه کېږي، د حکميت غونډه جوړه او قرار صادرېږي.

**د قرار محتوي**

**يوولسمه ماده:**

د حکميت د اداري قرار د لاندې مطالبو لرونکی وي:

۱-دغوښتنليک ورکوونکي شهرت.

۲- د غوښتنليک ورکوونکي غوښتنې.

۳- د قضيې اجمال.

۴- د ګمرکي مامورينو په واسطه د

رسيدگی قضيهٔ متنازع فيها راثبت و زمان و مکان جلسه را حد اقل يک هفته قبل ازتدويرآن به طرفين ابلاغ مينمايد.

(۲) درخواست دهنده شخصاً يا نمايندهٔ با صلاحيت وی در جلسه حکميت گمرکی اشتراک نموده ميتواند.

(۳) هرگاه طرفين قضيه به موعد معينه حاضر نشوند، عدم حضور آنها مانع رسيدگی قضيه نشده، جلسهٔ حکميت داير و قرار صادر ميگردد.

**محتوای قرار**

**مادهٔ يازدهم:**

قرار ادارهٔ حکميت گمرکی حاوی مطالب ذيل ميباشد:

۱- شهرت درخواست دهنده.

۲- مطالبات درخواست دهنده.

۳- اجمال قضيه.

۴- ارزيابی اجراآت مربوط توسط

اروندو اجراآتو ارزونه او د گمرکونو د لوی ریاست د نوې کتنې پایلې.

۵- د وړاندې شوو سندونو او مدرکونو ارزونه.

۶- د گمرکونو د لوی ریاست د اجراآتو تائید یا ردول.

۷- نیول شوی تصمیم.

۸- دحکمیت د ادارې د غړو لاسلیک او مهر.

## د قرار ترتیب

دوولسمه ماده:

د گمرکي حکمیت د ادارې قرار په دریو نقلونو کې ترتیبېږي، یو نقل یې د گمرکونو لوی ریاست ته، دوه یم نقل یې غوښتنلیک ورکوونکي ته ورکول کېږي او دریم نقل یې له سوابقو سره ضمیمه کېږي.

د گمرکي حکمیت د ادارې سکرتریت صادر شوی قرار ساتي.

## د قرار صادرېدل

دیارلسمه ماده:

د گمرکي حکمیت اداره د

ماموورین گمرکی و نتایج تجدید نظر ریاست عمومی گمرکات.

۵- ارزیابی اسناد و مدارک ارائه شده.

۶ تائید یا رد اجراآت ریاست عمومی گمرکات.

۷- تصمیم اتخاذ شده.

۸- امضای اعضا و مهر ادارهٔ حکمیت گمرکی.

## ترتیب قرار

مادهٔ دوازدهم:

قرار ادارهٔ حکمیت گمرکی در سه نقل ترتیب گردیده ، یک نقل آن به ریاست عمومی گمرکات، نقل دومی آن به درخواست دهنده داده شده ونقل سومی آن ضم سوابق میشود.

سکرتریت ادارهٔ حکمیت گمرکی قرارصادرشده را حفظ مینماید.

## صدور قرار

مادهٔ سیزدهم:

ادارهٔ حکمیت گمرکی در رابطه به

واردشوي اعتـــراض پـــه اړه ددې مقررې په نهمه ماده کې درج شوي سندونه، مدرکونه او څرګنـــدونې ګورې او د ګمرکونـــو د لـــوی رياست اجراآت څېړي او د (۳۰) ورځو په ترځ کـــې خپـــل قـــرار صادروی او اړخونو ته يې ابلاغوي.

## د حکميت د ادارې د تصميم پر عليه اعتراض

څوارلسمه ماده:

که چېرې غوښتنليک وړکوونکی دګمرکونو د قانون د شلمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره، د ګمرکي حکميت د ادارې پر تصميم باندې قناعت و نلري، کولای شي خپـــل اعتراض د قرار له صادرېدو څخه وروسته د (۱۵) ورځو مودې پـــه ترځ کې، اړوندې تجارتي محکمې ته وړاندې کړي.

اعتراض وارده اسناد، مـــدارک و توضيحات مندرج مادۀ نهم ايـــن مقرره را ملاحظه و اجراآت رياست عمومی ګمرکات را بررسی نموده در خلال (۳۰) روز قرار خـــويش را صادر و بـــه طـــرفين ابـــلاغ می نمايد.

## اعتـــراض عليـــه تـــصميم ادارۀ حکميت

مادۀ چهاردهم:

هرګـــاه درخواســـت دهنـــده با رعايت حکم مندرج فقـــرۀ (۲) مادۀ بيـــستم قـــانون ګمرکـــات بـــه تـــصميم ادارۀ حکميـــت ګمرکـــی قناعـــت نداشـــته باشد، ميتوانـــد اعتـــراض خـــود را در مـــــــدت( ۱۵ ) روز بعـــد از صـــدور قـــرار، بـــه محکمـــۀ تجـــارتی مربـــوط ارائه نمايد.

## د قرار نهایي کېدل

پنځلسمه ماده:

د ګمرکي حکمیت د اداري قرار په لاندي مواردو کې نهایي او د تطبیق وړ دی:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د تنازع وړګمرکي دین اندازه تر پنځوسو زرو (۵۰۰۰۰) افغانیو پورې وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د څېړنې وړ موضوع قاچاقي مالونه وي او په هکله ئې د ګمرکونو د قانون د یوسلو اویایمې مادې په (۱، ۲، ۳ او۴) فقره کې د درج شوو حکمونو مطابق اجراآت شوي وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د ګمرکي دین اندازه له پنځوسو زرو افغانیو څخه زیاته وي او اعتراض کوونکي د قرار پر خلاف خپل اعتراض، ددې مقررې په څوارلسمه ماده کې په درج شوې موده کې،

## نهائی شدن قرار

مادهٔ پانزدهم:

قرار ادارهٔ حکمیت گمرکی در موارد آتی نهائی وقابل تطبیق میباشد:

۱- در صورتیکه اندازهٔ دین گمرکی مورد تنازع الی پنجاه هزار(۵۰۰۰۰) افغانی باشد.

۲- در صورتی که موضوع رسیدگی ، اموال قاچاقی بوده و مطابق احکام مندرج فقرات (۱،۲،۳ و۴ ) مادهٔ یک صدوهفتادم قانون گمرکات در مورد اجراآت شده باشد.

۳- در صورتی که اندازهٔ دین گمرکی متجاوز از پنجاه هزار (۵۰۰۰۰) افغانی باشد و در خواست دهنده اعتراض خود را علیه قرار در مدت مندرج مادهٔ چهاردهم این

اړوندې سودا ګريزې محکمې تــه وړاندې نکړي.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

د تضمين مستردول

شپاړسمه ماده:

(۱) که چېرې د ګمرکي حکميت اداره د غوښتليک ورکوونکي په ګټه قرار صادر کړي، د ګمرکونو د قانون د اتلسمې مادې پــه (۵) فقره کې درج شوی تضمين هغهٔ ته مستردېږي او په هغهٔ صورت کې چې اعتراض يــې رد شــي يــا د ګمرکي حکميت د ادارې قــرار، ددې مقررې د څوارلسمې مادې د حکم مطابق وروستنی او د تطبيق وړ وې، دورګړل شوي تــضمين وجه، د دولت د وارداتو په حساب کې بانک ته تحويلېږي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې قضيه په محکمه کې د قضايي څېړنې وړ و ګرځي، د محکمې لــه قطعــي

مقرره به محکمهٔ تجارتی مربــوط ارائه ننمايد.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

استرداد تضمين

مادهٔ شانزدهم:

(۱) هرگاه ادارهٔ حکميت گمرکی به نفع در خواست دهنده ، قــرار صادر نمايد، تضمين مندرج فقــرهٔ (۵)مــادهٔ هجــدهم قــانون گمرکــات بــه وی مــسترد و در صــورتی کــه اعتــراض وی رد گــردد يــا قــرار ادارهٔ حکميـــت گمرکـــی طبق حکــم مــادهٔ چهــاردهم ايــن مقــرره نهــائی و قابــل تطبيق باشد ، وجه تــضمين داده شده بحــساب وارداتِ دولــت تحويل بانک ميگردد.

(۲) در صــورتی کــه قــضيه عندالمحکمــه مــورد رســيدگی قــضائی قــرار گيــرد، بعــد از

فيصلې وروسته، دتضمين دوجهې د مستردېدو ياتحويلولو په هکله ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو حالاتو له په پام کې نيولو سره،پدې برخه کې اجراآت ترسره کېږي.

## حقوق او امتيازونه

اوولسمه ماده:

(۱) د ګمرکي حکميت د اداري د غړو او اړوندو کارکوونکو معاش، مقررېدل، تبديلي، ترفيع، تقاعد او د هغهٔ رفع کېدل، د موافقې ورکړه، د استعفيٰ منل، دناروغي، ضروري، اوتفريحي رخصتي او نورې اړوندې چارې، د کار او د دولت د مامورينو د قوانينو د حکمونو مطابق، ددې مقررې د حکمونو له په پام کې نيولو سره اجراء کېږي.

(۲) د ګمرکي حکميت د اداري غړي پر اصلي معاش برسېره د مياشتني مدد معاش لرونکي دي چې د مالې وزير په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ

فيصلهٔ قطعی محکمه بانظرداشت حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در مورد استرداد يا تحويلی وجه تضمين در زمينه اجراآت بعمل ميايد.

## حقوق و امتيازات

مادهٔ هفدهم:

(۱) معاش ، تقرر، تبدل ، ترفيع ، تقاعد و رفع آن، اعطای موافقه ، قبولی استعفا، رخصتی های مريضی،ضروری وتفريحی و ساير امور مربوط به اعضای ادارهٔ حکميت گمرکی و کارکنان مربوط طبق احکام قوانين کار و مامورين دولت با رعايت احکام اين مقرره اجرا ميگردد.

(۲) اعضای ادارهٔ حکميت گمرکی علاوه بر معاش اصلی، دارای مدد معاش ماهوار بوده که به پيشنهاد وزير ماليه و منظوری رئيس جمهور

تاکل کېږي.

## د گمرکي ادارې مهر

اتلسمه ماده:

د گمرکـــي حکمیـــت اداره د مخصوص مهر لرونکې ده چې پـــه هغهٔ کې د افغانـــستان د اســلامي جمهوریت نښان او د مالیې وزارت او گمرکي حکمیت د ادارې نـــوم حک وي.

## د انفاذ نېټه

نولسمه ماده:

دغه مقرره د تصویب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جریده کې دې خپره شي.

تعیین میگردد.

## مهر ادارهٔ حکمیت گمرکی

مادهٔ هجدهم:

ادارهٔ حکمیت گمرکی دارای مهر مخصوص بوده که در آن نـــشان دولت جمهوری اسلامی افغانستان و اســـم وزارت مالیـــه و ادارهٔ حکمیـــت گمرکـــی حـــک میباشد.

## تاریخ انفاذ

مادهٔ نزدهم:

این مقـــرره از تـــاریخ تـــصویب نافـــذ و در جریـــدهٔ رســـمی نشر گردد.

## تصحیح ضروری درمقرره های تعیین قیمت گمرکی اموال وحکمیت گمرکی

درمتن دری :

۱- درصفحهٔ (۱۲)، سطر چهاردهم، علامهٔ (،) بعد از کلمهٔ (بایع) حذف شود.

۲- درصفحهٔ (۱۵)، سطر هفتم، علامـهٔ (،) بعـد از کلمهٔ (شده) حذف گردد.

۳- درصفحهٔ (۱۸)، سطر ششم، کلمهٔ (می پـردازد) حذف گردد .

۴- درصفحه (۳۶)، سطر پانزدهم، کلمهٔ (چهاردهم) به (پانزدهم) تصحیح گردد .

دپښتو په متن کې :

۱- د(۱۲) مخ، په څوارلسمه کرښه کې لـه (بـایع) وروسته، د (،) علامه حذف شي .

۲- د(۱۵) مخ،په اوومه کرښه کې له (نقل کرایـه) وروسته د(،)علامه حذف شي.

۳- د (۳٦) مخ ، پـه پنځلـسـمه کرښـه کـې د (څوارلسمې) کلمه په (پنځلسمې) تصحیح شي.

# اشتراک سالانه

در مرکز و ولایات :(۵۰۰) افغانی

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

خارج از کشور (۱۵۰) دالر امریکائی

قیمت این شماره :(۵۰) افغانی

نمبر تیلفون دیجیتل : (۲۱۰۳۳۷۵)

تیراژ چاپ : (۵۰۰۰) جلد

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

## OFFICIAL
## GAZETTE

# Relgulation on Determining the Price of Goods in Customs
# And
# Regulation on Customs Arbitration

**ISSUE NO :881**

**Date : 20th March 2006**

مطبعهٔ آزادی